د افغـــــانستان اســـــلامي امـــــارت
د ارشـــــاد، حج او اوقـــــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۱۰/ شوال المكرم/۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۳۱/ حمل/۱۴۰۳هـ، ش

# د جُمعې د ورځې فضيلت ، آداب او مسنونه اعمال

ألحمد لله الذي خص هذه الأمة المحمدية، بما أدخر لها من الفضائل السَّنِيَّة، والصلاة والسلام على سيدِنا محمدٍ خيرِ البَرِيَّة، وبعد:

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم : {يَا يُّهَا الَّذينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيرٌ لَكُمْ إِنْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ. فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ } الجمعة: (۱۰)

الله جل جلاله د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم امت ته داسې خصوصيات او ځانګړتياوې ورکړې دي چې نورو امتونو ته يې نه دي ورکړي چې د هغې له جملې څخه د جُمعې ورځ ده، الله تعالی محمدي امت ددې ورځې په ورکړه سره نازولی دی، هغه ورځ چې ورته سيد الأيام ويل کيږي او د الله تعالی په نزد لوی مقام او فضيلت لري.

د جُمعې ورځې ته ځکه جُمعه وايي چې په هره هفته کې مسلمانان په دې ورځ په لويو عبادتګاه ګانو کې راجمع کيږي.

يا داچې په دې ورځ کې الله تعالی د آدم عليه السلام خټه را جمع کړه لکه چې په يو حديث کې راځي: (يا سلمان يوم الجمعة فيه جمع أبوك أو أبوكم). صحيح ابن خزيمة (۳ /۱۱۸)و إسناده حسن. تفسير ابن كثير (٤ /٤٣٨)

د جُمعې ورځې ته په جاهليت کې [يوم العروبة] ويل کيدله او دلومړي ځل لپاره د مديني منورې انصارو د جُمعې ورځ د دوهم ځل لپاره په جُمعې سره ونوموله.د په يو روايت کې راځي:(عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ:جَمَّعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ قَبْلَ أَنْ يُقْدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَبْلَ أَنْ تَنْزِلَ الْجُمُعَةُ وَهُمُ الَّذِينَ سَمَّوْهَا الْجُمُعَةَ، فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ لِلْيَهُودِ:يَوْمٌ يَجْتَمِعُونَ فِيهِ كُلَّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ، وَلِلنَّصَارَى أَيْضًا مِثْلُ ذَلِكَ، فَهَلُمَّ فَلْنَجْعَلْ يَوْمًا نَجْتَمِعُ وَنَذْكُرُ اللَّهَ وَنُصَلِّي وَنَشْكُرُهُ فِيهِ، أَوْكَمَا قَالُوا: فَقَالُوا:يَوْمُ السَّبْتِ لِلْيَهُودِ، وَيَوْمُ الْأَحَدِ لِلنَّصَارَى، فَاجْعَلُوهُ يَوْمَ الْعُرُوبَةِ، وَكَانُوا يُسَمُّونَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ يَوْمَ الْعُرُوبَةِ، فَاجْتَمَعُوا إِلَى أَسْعَدَ بْنِ زُرَارَةَ فَصَلَّى بِهِمْ، يَوْمَئِذٍ وَذَكَّرَهُمْ فَسَمَّوْهُ الْجُمُعَةَ،حَتَّى اجْتَمَعُوا إِلَيْهِ، فَذَبَحَ أَسْعَدُ بْنُ زُرَارَةَ لَهمْ شَاةً فَتَغَدَّوْا وَتَعَشَّوْا مِنْ شَاةٍ وَاحِدَةٍ، وَذَلِكَ لِقِلَّتِهِمْ ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ فِي ذَلِكَ بَعْدَ ذَلِكَ: {إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ} [الجمعة: ٩] مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۳ /۱۵۹)، روح المعاني (١٤ /٢٩٤)

ترجمه:- دامام ابن سيرين رحمه الله څخه روايت دی هغه وايي:دجُمعې لمونځ وکړد مديني منورې اوسيدونکو مخکې له دې چې نبي عليه السلام مديني منورې ته راشي او مخکې له دې چې د جُمعې سورت نازل شي او دوی هغه کسان ؤ چې جمعه يې په جُمعې سره ونوموله، انصارو وويل:د يهودو لپاره يوه ورځ ده چې په هرو اوو ورځو کې په کې را جمع کيږي او د نصاراو لپاره هم داسې يوه ورځ ده ، راځئ چې مونږ هم د ځان لپاره يوه ورځ وټاکو چې په دغه ورځ کې به را جمع کيږو او الله تعالی به يادوو، او لمونځ به کوو او په دغه ورځ کې به دالله شکر اداء کوو او لکه چې داسې يې وويل د شنبې

ورځ د يهودو ده او ديكشنبې ورځ د نصاراو ده ، نو وډاکئ (د راټوليدو لپاره) د عروبه ورځ او دوی به پخوا د جُمعې ورځ ته دعروبې ورځ ويله، نو ټول اسعد بن زراره ته را ټول شول او هغه دوی ته لمونځ ورکړ په دغه ورځ او نصيحت يې ورته وکړ نو دوی دغه ورځ د جُمعې په نوم سره ونوموله ترڅو چې ټول ورته راټول شي، نو اسعد بن زراره دوی ته يو ګډ(پسه ) ذبح کړ نو دوی غرمه او ماښام له دغه يو ګډ څخه خوراک وکړ ځکه دوی کم عدد ؤ، بيا الله تعالی په دې اړه دا آيت نازل کړ:
{إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ} [الجمعة: ٩]
د جُمعې ورځ ددې آخري امت خصوصيت دی؛ ځکه چې تيرو امتونو يهودو او نصاراو ته الله تعالی د جُمعې د ورځې د تعظيم امرکړی ؤ ، خو هغوی ددې ورځې په تعيين کې اختلاف وکړ. يهودو وويل چې ددې ورځې څخه مراد د شنبې ورځ ده،ځکه چې په شنبه کې الله تعالی د مخلوق د پيداکولو څخه فارغ شوی دی، نو هغوی د تعظيم لپاره د شنبې ورځ غوره کړه او نصاراو وويل چې د جُمعې د ورځې څخه مراد د يکشنبې ورځ ده، ځکه چې الله تعالی د مخلوقاتو پيداکول د يکشنبې په ورځ پيل کړي دي او هغوی د تعظيم لپاره د يکشنبې ورځ غوره کړه او دغو قومونو به دغه ورځې مقدسه ګڼلې. المفهم لما أشكل من تلخيص كتاب مسلم للقرطبى (٧ /١٢٥)
مګر رب العزت دخپلې مهربانۍ له مخې مسلمانانو ته دجُمعې ورځ پرته له اجتهاده د وحيې په ذريعه وروښوده.په حديث شريف کې راځي: (عَنْ حُذَيْفَةَ قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- : أَضَلَّ اللَّهُ عَنِ الْجُمُعَةِ مَنْ كَانَ قَبْلَنَا فَكَانَ لِلْيَهُودِ يَوْمُ السَّبْتِ وَكَانَ لِلنَّصَارَى يَوْمُ الأَحَدِ فَجَاءَ اللَّهُ بِنَا فَهَدَانَا اللَّهُ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ فَجَعَلَ الْجُمُعَةَ وَالسَّبْتَ وَالأَحَدَ وَكَذَلِكَ هُمْ تَبَعٌ لَنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ نَحْنُ الآخِرُونَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا وَالأَوَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَقْضِىُّ لَهُمْ قَبْلَ الْخَلاَئِقِ). صحيح مسلم (٣ /٧)
ترجمه:- د حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: الله تعالي خطا کړل د جُمعې د ورځې څخه هغه څوک چې زمونږ څخه مخکې ؤ (يهود او نصارا) ، نو وه د يهودو لپاره د شنبې ورځ (د تعظيم لپاره) او وه د نصاراو لپاره يکشنبه (د تعظيم لپاره) بيا الله تعالی مونږ راوستلو او راوه يې ښودله مونږ ته د جمعې ورځ (پرته له اجتهاده او فکر څخه)، نو وه يې ګرځوله د جُمعې ورځ(زمونږ لپاره)، د شنبې ورځ(د يهودو لپاره) او د يکشنبې ورځ (دنصاراو لپاره).همدارنګه دوی (يهود او نصارا) به زمونږ تابع وي د قيامت په ورځ ، مونږ آخر امت يو ددنيا د انسانانو څخه(په پيدا يش کې) او مونږ به هغه لومړنی امت يو د قيامت په ورځ کې چې فيصله به يې شوي وي ددوی مخکې د ټولو مخلوقاتو څخه.(جنت ته په داخليدو کې لومړني وي).
د جُمعې په ورځ کې لوی لوی حوادث او واقعات رامنځ ته شوي دي چې ددې ورځې په فضيلت باندې دلالت کوي لکه د حضرت آدم عليه السلام پيداښت او آدم عليه السلام د جمعې په ورځ جنت ته داخل کړل شوی ؤ او د جمعې په ورځ له جنت څخه راويستل شوی دی او د جمعې په ورځ به قيامت قائميږي.په حديث شريف کې راځي: (خَيْرُ يَومٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الجُمُعَةِ : فِيهِ خُلِقَ آدَمُ ، وَفِيهِ أُدْخِلَ الجَنَّةَ ، وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا ولا تقوم الساعة إلا في يوم الجمعة ).رواه مسلم .
ترجمه:- هغه غوره ورځ چې لمر ورباندې ختلی دی د جمعې ورځ ده. په دې ورځ کې آدم عليه السلام پيدا شوی دی او په دې ورځ کې آدم عليه السلام جنت ته داخل شوی دی او د جمعې په ورځ کې له جنت څخه راويستل شوی دی او قيامت به نه قائميږي مګر د جمعې په ورځ کې.
په يو بل حديث شريف کې راځي: (عن أَبِي هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ وَلَا تَغْرُبُ عَلَى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ). مسند أحمد ط الرسالة (١٣ /١١٦)
د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: نه راخيژي لمر او نه ډوبيږي په داسې ورځ چې هغه دې بهتره وي د جُمعې د ورځې څخه.

ددې ورځې د فضائلو څخه دا هم ده چې دا ورځ د مسلمانانو لپاره د اختر ورځ ده. په يو حديث شريف کې راځي:(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : إِنَّ هَذَا يَوْمُ عِيدٍ ، جَعَلَهُ اللَّهُ لِلْمُسْلِمِينَ ، فَمَنْ جَاءَ إِلَى الْجُمُعَةِ فَلْيَغْتَسِلْ ، وَإِنْ كَانَ طِيبٌ فَلْيَمَسَّ مِنْهُ ، وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ). [سنن ابن ماجة، ابن أبي شيبة قال المنذری: اسناده حسن]

ترجمه:- د عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي بيشکه دا (جمعه) د اختر ورځ الله تعالی د مسلمانانو لپاره ګرځولی ده، پس څوک چې راشي جمعې ورځې لمانځه ته بايد غسل وکړي او که چيرې خوشبوی ورسره وي بايد دهغې څخه خوشبوی ولګوي په ځان او په تاسې باندې د مسواک استعمال په کار دی.

په يو بل حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِى جُمُعَةٍ مِنَ الْجُمَعِ : يَا مَعَاشِرَ الْمُسْلِمِينَ إِنَّ هَذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللَّهُ تَعَالَى لَكُمْ عِيدًا، فَاغْتَسِلُوا وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ). السنن الكبرى للبيهقي

ترجمه:- دابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعو څخه په يوه جمعه کې وفرمايل: ای مسلمانانو! بيشکه دا ورځ ګرځولی ده الله تعالی ستاسو لپاره اختر، پس غسل وکړئ او په تاسې باندې د مسواک استعمال اړين دی.

د جمعې په ورځ کې هغه وخت او ساعت پروت دی چې د مسلمان دعاء په کې قبليږي.په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ –صلى الله عليه سلم- ذَكَرَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ فِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى شَيْئًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَأَشَارَ بِيَدِهِ يُقَلِّلُهَا). صحيح البخاري

ترجمه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې د ورځې ذکر وکړ او وه يې فرمايل:په ورځ دجمعې کې يو ساعت دی نه برابريږي ورسره مسلمان بنده په داسې حال کې چې هغه ولاړ وي لمونځ کوي چې الله تعالى څخه وغواړي کوم شی؛مګر دا چې ورکوي يې ورته همدغه ته. او اشاره يې وکړه په لاس باندې دايې کم وګڼلو. يعنی دا ساعت ډير کم وخت دی.

ځيني علماء وايې چې دجمعې په ورځ دسوال دقبليدو وخت کله چې امام کيني په ممبرباندې ددې وخت څخه شروع ترڅو چې لمونځ ختم شي.

ددوی دليل دا حديث دی: (عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: أَسَمِعْتَ أَبَاكَ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَأْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ؟ قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، سَمِعْتُهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ إِلَى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ). صحيح مسلم (۲ /۵۸٤)

ترجمه:- د ابوبرده بن ابی موسى اشعری څخه روايت دی هغه وايې چې ماته عبدالله بن عمر رضي الله عنه وويل آيا تا د خپل پلار څخه اوريدلي دي چې د رسو ل الله صلى الله عليه وسلم څخه يې د جمعې د ساعت په هکله حديث بيان کړی وي؟ ابوبرده وايي چې ما ورته وويل چې هو! ما د خپل پلار څخه اوريدلي دي چې ويل يې چې ما درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه فرمايل: دا (ساعت) په مابين د کيناستلو د امام دي (په ممبر) تر دې پورې چې لمونځ اداء شي.

بله داچې د مسلم په روايت کې راځي چې : ( وهي ساعة خفيفة) دا کم وخت دی او طولانې نه دی ، ددې څخه معلوميږي چې دا وخت د مازيګر څخه وروسته وخت نه دی ؛ ځکه د مازيګر څخه وروسته تر غروب پورې زيات وخت وي.

ځيني نور علماء کرام وايې چې د جمعې په ورځ د سوال د قبليدو وخت د مازيګر لمانځه څخه وروسته وخت دی.ددوی دليل داحديث دی: (عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَوْمُ الْجُمُعَةِ اثْنَتَا عَشْرَةَ سَاعَةً، لَا

يُوجَدُ فِيهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ شَيْئًا إِلَّا آتَاهُ إِيَّاهُ، فَالْتَمِسُوهَا آخِرَ سَاعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ). سنن النسائي (٣ /٩٩) سنن أبي داود (٢ /٢٨١)

ترجمه:- دجابربن عبدالله رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت نقل کوي هغه وایې چې د جُمعې ورځ دولس ساعته ده په دې کې مسلمان بنده نه پیدا کیږي چې دالله تعالی څخه څه شی وغواړي مگر داچې ورکوي هغه شی ده لره،نو وه یې لټوئ (دغه وخت) په آخري ساعت کې د مازیگر څخه وروسته.

الله تعالی دا وخت ددې لپاره پټ کړی ده تر څو مسلمانان او رغبت والا خلک یې د جمعې د ورځې په هره لحظه کې ولټوي.ځکه خو امام نووي رحمه الله وایې: دا مستحب ده چې د جمعې په ټوله ورځ کې زیاته دعاء وغوښتل شي د سحر ختلو څخه د لمر ترغروب پورې، په دې امید چې دعاء د اجابت د ساعت سره تصادف وشي.[الاذکار]

د امام عبدالرزاق په مصنف کې داسې واقعه نقل ده چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د مازیگر دلمانځه جماعت ورکولو او صحابه کرام ورپسې ولاړ وو، په دې وخت کې یو سپی راغی او ددوی په مخکې یې د تیریدلو اراده لرله ناڅاپه داسپی را ولویدلو او ددوی په مخکې د تیردلو څخه مخکې مړ شو، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ پوره کړ صحابه کرامو ته یې مخ را وگرځولو او وه یې فرمایل: (أیکم دعا علیه؟) په تاسو کې چا دې سپي ته خیرا وکړه؟ یو کس وویل: ما ورته خیرا ( بددعائې) وکړه . نبي علیه السلام وفرمائل:

( لو دعا علی أمة من الأمم لاستجیب له) که چیرې ده خیرا کړی وی کوم ملت ته د ملتونو څخه خامخا خیرا به یې قبوله شوی وه. مصنف عبد الرزاق (٢ /٢٣)

همدا راز په حدیث شریف کې د جُمعې ورځې ته (سید الأیام) ورځ ویل شوی ده او قیامت به د جُمعې په ورځ قائمیږي.( عَنْ أَبِي لُبَابَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : إِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الأَيَّامِ ، وَأَعْظَمُهَا عِنْدَ اللهِ ، وَهُوَ أَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الأَضْحَى وَيَوْمِ الْفِطْرِ، فِيهِ خَمْسُ خِلاَلٍ : خَلَقَ اللَّهُ فِيهِ آدَمَ، وَأَهْبَطَ اللَّهُ فِيهِ آدَمَ إِلَى الأَرْضِ، وَفِيهِ تَوَفَّى اللَّهُ آدَمَ ، وَفِيهِ سَاعَةٌ لاَ يَسْأَلُ اللَّهَ فِيهَا الْعَبْدُ شَيْئًا إِلاَّ أَعْطَاهُ، مَا لَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا، وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ، مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ، وَلاَ سَمَاءٍ، وَلاَ أَرْضٍ، وَلاَ رِيَاحٍ، وَلاَ جِبَالٍ، وَلاَ بَحْرٍ، إِلاَّ هُنَّ يُشْفِقْنَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ). سنن ابن ماجه (١ /٣٤٤)في الزوائد إسناده حسن ، أحمد (٢٤ /٣١٤)

ترجمه:- د ابولبابه بن عبد المنذررضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: بیشکه د جمعې ورځ سید الأیام ورځ ده او په ورځو کې ډیره لویه ورځ ده دالله تعالی په نزد، د جمعې ورځ د الله تعالی په نزد ډیره لویه ده نسبت د لوی اختر ورځ ته او د کوچني اختر ورځ ته. په دې ورځ کې پنځه ډوله کارونه واقع شوي دي، په دې ورځ کې الله تعالی حضرت آدم علیه السلام پیدا کړی دی او الله تعالی په دې ورځ کې رابنکته کړی دی آدم علیه السلام ځمکې ته او په دې ورځ کې الله تعالی آدم علیه السلام وفات کړی دی، په دې ورځ کې داسې یو ساعت (وخت) دی چې نه غواړي بنده دالله تعالی څخه په کې هیڅ شی؛ مگر هغه ورته یی ورکوي، ترڅو چې د حرامو غوښتنه یې نه وي کړی او په دې ورځ کې به قیامت قائمیږي، الله تعالی ته هیڅ نږدې ملائکه نشته او نه آسمان،او نه ځمکه او نه هواگانې او نه غرونه او نه بحر؛ مگر دا ټول ویریږي د ورځې د جمعې څخه (چې قیامت په کې قائم نشي).

ددې حدیث شریف څخه په ډاگه معلومیږي چې ټول مخلوق پوهیږي چې قیامت به د جمعې په ورځ کې قائمیږي.[حاشیة السندي علی ابن ماجه]

د جُمعې بل فضيلت دادی چې په دې ورځ کې بندګانو ته د هغوی ګناهوه ببښل کیږي.په حدیث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَقُولُ :الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ). صحيح مسلم (١ /١٤٤)

ترجمه:- پنځه وخته لمونځ او یوه جمعه تر بلې جمعې پورې او یو رمضان د بل رمضان پورې ببښونکي دي د هغه ګناهونو چې ددوی په منځ کې دي کله چې دکبیره ګناهونو څخه ځان وژغوري.

په یو بل حدیث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَ الْجُمُعَةِ إِلَى الْجُمُعَةِ). سنن أبى داود

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی څوک چې اودس وکړي او ښه اودس وکړي بیا دجمعې لمانځه ته راشي او خطبې ته غوږ ونیسي و به ببښل شي ورته هغه ګناهونه چې د یو جمعې څخه تر بلی جمعې پورې کړي دي.

څوک چې د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه کې وفات شي او دفن شي د قبر له عذاب څخه به په امن او امان کې وي.

په یو حدیث شريف کې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الجُمُعَةِ إِلَّا وَقَاهُ اللَّهُ فِتْنَةَ القَبْرِ). سنن الترمذي

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي داسې مسلمان نشته چې مړ شي په ورځ د جمعې کې او یا په شپه د جمعې کې؛ مګر دا چې وبه یې ساتي الله تعالی د قبر له عذاب څخه.

امام حکیم ترمذی وایې: د جمعې په ورځ جهنم نه ګرمول کیږي او د جهنم دروازي بندې وي.[نوادرالأصول]

## د جُمعې د ورځې مستحب او سنت اعمال:

**د جُمعې د ورځې سنت او مستحب کارونه په لاندې توګه دي:**

۱- د جُمعې په ورځ غسل کول سنت دي. په یو حدیث شريف کې راځي: په حدیث شريف کې راځي: (مَنْ جَاءَ مِنْكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ). صحيح البخاري .ترجمه: څوک چې ستاسې څخه د جمعې لمانځه ته د راتللو اراده وکړي، نو باید چې غسل وکړي.

د مسلم په روایت کې راځي:(إذا أراد أحدكم أن يأتي الجمعة فليغتسل) صحيح مسلم ترجمه: څوک چې ستاسې څخه یو څوک اراده وکړي چې دجمعې لمانځه ته راشي باید غسل وکړي.

دامام حاکم په روایت کې راځي:(مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَ فِي طَهَارَةٍ إِلَى الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى). المستدرك للحاكم

ترجمه:- چاچې د جمعې په ورځ غسل وکړ داسې شخص به پاک وي دخيري څخه تربلې جُمعې پورې.

۲- د جُمعې د لمانځه د ادا کولو لپاره په لاره پیاده تلل، په پوره سکون او وقار سره تلل مستحب دي.

په حدیث شريف کې راځي:(عن أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ: إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَلاَ تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ وَأْتُوهَا تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا ). سنن أبى داود-( ١ /٢٢٣)

ترجمه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي وه یې فرمایل: کله چې د لمانځه لپاره اقامت وویل شو ،نو تاسو لمانځه ته په منډو سره مه راځي بلکې لمانځه ته راشئ په

داسې حال کې چې تاسو په قلاره راتلونکي یاست او په تاسو لازم دی سکون او وقار پس کوم لمونځ مو چې ونیولو هغه وکړئ او کوم چې درڅخه فوت شوی ؤ، هغه پوره کړئ( یعنې هغه راوګرځوئ).

**۳- د جُمعې لمانځه ته په لومړي وخت کې تلل مستحب دي.**

څوک چې په اول وخت کې د جمعې مانځه ته لاړ شي نو دده ثواب زیات دی نسبت هغه چا ته چې د لومړي وخت څخه وروسته راځي.په یو حدیث شریف کې راځي:(مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلاَئِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ ). متفق علیه

ترجمه:- څوک چې د جمعې په ورځ د جنابت د غسل په شان غسل اوکړي ، بیا په اول وخت کې د جمعې مانځه ته لاړ شي نو دومره ثواب یې کیږي لکه اوښ چې خیرات کړي او څوک چې په دویم ساعت کې جمات ته لاړشي نو دومره ثواب یې کیږي لکه غوا چې خیرات کړي ، څوک چې په دریم ساعت کې لاړ شي نو دا داسې ده لکه د غټو ښکرونو واله ګډ( پسه) چې خیرات کړي ، څوک چې په څلورم ساعت کې لاړ شي نو دا داسې دی لکه چرګه چې خیرات کړي او څوک چې په پنځم ساعت کې لاړ شي دا داسې دی لکه د چرګې هګی ( آنډه ) چې خیرات کړي . پس کله چې امام خطبې ته را اووځي ( او خطبه شروع کړي ) نو فرښتې ( د نومونو لیکل بند کړي ) راشي او خطبې ته غوږ ونیسي.

همدې ته ورته مضمون په یو بل حدیث شریف کې ذکر شوی دی؛ نبي علیه السلام فرمایي: ( إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَقَفَتِ الْمَلاَئِكَةُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ يَكْتُبُونَ الأَوَّلَ فَالأَوَّلَ وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي بَدَنَةً ثُمَّ كَالَّذِي يُهْدِي بَقَرَةً ثُمَّ كَبْشًا ثُمَّ دَجَاجَةً ثُمَّ بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ وَيَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ).صحیح البخاري.

ترجمه:- چې کله د جمعې ورځ شي نو ملائکې د جُمات په دروازه کې ودریږي او لیکي هغه لومړنی شخص بیا ورپسې بل بیا بل( کوم کس چې اول مسجد ته راشي د هغه نوم اول ولیکي ، بیا چې دویم کس راشي د هغه نوم ورپسې ولیکي ، همدغه شان ترتیب وار د راتلونکو خلقو نومونه لیکي) پس کوم کس چې اول ساعت کې مسجد ته راشي د هغه مثال داسې دی لکه یو کس چې د الله د رضا د پاره اوښ خیرات کړي.بیا د دویم راتلونکي کس مثال داسې دی لکه غوا چې د الله جل جلاله د رضا د پاره خیرات کړي ، بیا د ورپسې راتلونکي کس مثال داسې دی لکه ګډ چې د الله د رضا د پاره خیرات کړي ، بیا د ورپسې راتلونکي کس مثال داسې دی لکه چرګه چې خیرات کړي ، او د ورپسې راتلونکي کس مثال داسې دی لکه د چرګې هګۍ ( آنډه ) چې خیرات کړي ، پس کله چې امام د خطبې ویلو د پاره راووزي نو ملائکې خپل کتابونه بند کړي او خطبې ته غوږ ونیسي.

**۴- دجُمعې په ورځ د بدن پاکول، د نوکانو ، د تخرګ او شرمګا د ویښتانو لرې کول مستحب دي.** په یو حدیث شریف کې راځي: (عَن أبي هُرَيرة ؛ أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يقلم أظفاره ويقص شاربه يوم الجمعة قبل أن يخرج إلى الصلاة). مسند البزار ورواه البغوي بسنده عن عبد الله بن عمرو ابن العاص.

ترجمه:- د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به کمول نوکان خپل او کمول به یې بریتونه خپل د جمعې په ورځ مخکې له دینه چې ووزي لمانځه ته.

په یو روایت کې راځي:(عن نافع؛ أن عبد الله بن عمر كان يقلم أظفاره، ويقص شاربه في كل جمعة). الجامع لابن وهب

ترجمه:- نافع رحمه الله وایي چې د عبدالله بن عمررضي الله عنه به کمول خپل نوکان او کمولو به یې خپل بریتونه په هره جمعه کې.

د احنافو په نزد هره اونۍ د نوکانو او ویښتانو لرې کول دجمعې دلمانځه څخه وروسته افضل دی .

په فتاوى شامي کې راځي: الْأَفْضَلُ حَلْقُ الشَّعْرِ وَقَلْمُ الظُّفُرِ بَعْدَهَا اي بعد الجمعة. فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ : وَيُكْرَهُ تَقْلِيمُ الْأَظْفَارِ ، وَقَصُّ الشَّارِبِ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ لِمَا فِيهِ مِنْ مَعْنَى الْحَجِّ وَذَلِكَ قَبْلَ الْفَرَاغِ مِنْ الْحَجِّ غَيْرُ مَشْرُوعٍ. رد المحتار (٦/ ١٢٩-١٣٠)

خو علامه طحطاوي ددې خبرې سره خپل مخالفت ښودلی دی او وایې چې داخبره اعتبار نلري ځکه دا د نص په مقابل کې تعلل دی. حاشية الطحطاوي على المراقي (ص: ٣٤١)

**٥- د جمعې په ورځ پاکې او ښایسته جامې اغوستل او د خوشبویی لګول مستحب دي.**

د جمعې په ورځ پاکې او ښایسته جامې اغوستل او خوشبوی لګول د جمعې له آدابو او مستحباتو څخه دي. په حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ وَأَبِى هُرَيْرَةَ قَالاَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-:مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ وَمَسَّ مِنْ طِيبٍ - إِنْ كَانَ عِنْدَهُ - ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ ثُمَّ صَلَّى مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ صَلاَتِهِ كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ جُمُعَتِهِ الَّتِى قَبْلَهَا). سنن أبى داود

ترجمه:- د ابوسعيد خدری او ابوهريره رضي الله عنهما څخه روايت دی دوی دواړه وایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او خپلې ښکلی جامې واغوندي او خوشبوی ولګوي –که چیرې ورسره وي- بیاد جمعې لمانځه ته راشي او د خلکو په څټونو تیر نشي ( داسې چې وختي راشي او کوم ځای ته چې ورسیږي هماڵته کيني) او بيا لمونځ وکړي هرڅومره چې الله تعالى ورته ليکلي وي، بيا خطبې ته غوږ ونيسي کله چې يې امام د خطبې ويلو لپاره راوزي تردې پورې چې د خپل لمانځه څخه فارغ شي، دده دا فعل به کفاره وي د هغه ګناهونو چې په مابين ددې جمعې او د هغې جمعې چې ددې څخه مخکې تيره شوی وي.

**٦- د جُمعې په ورځ د سورت کهف تلاوت کول مستحب دي.**

د جُمعې په ورځ د الکهف سورت لوستل مستحب دي. په يو حديث شريف کې راځي:( مَنْ قَرَأَ سُورَةَ الْكَهْفِ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهُ مِنَ النُّورِ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ). المستدرک للحاکم، السنن الکبرى للبيهقي

ترجمه:- څوک چې د الکهف سورت ووايې د جمعې په ورځ کې نور به ورته روښانه کړي په مابين ددوه جمعو کې.

د حاکم نيشاپوري په روايت کې راځي چې دده دځای څخه تر مکې مکرمې پورې به نور وي.

**٧- د جُمعې په ورځ ډيره دعا کول مستحب دي.** ځکه په جمعه کې داسې يو ساعت دی چې په هغه ساعت کې د مسلمان دعا برابره شي قبليږي او دا ساعت نه دی معلوم چې ځنې علماء د جمعې د ورځې پای د مازيګر لمانځه وروسته وخت يی بولي او ځيني علماء د خطبې وخت يی بولي.

**٨- د جمعې په ورځ په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې درود ويل مستحب دي.** په حديث شريف کې راځي:(انَّ مِن أفضَلِ أيَّامِكُم الجُمُعَة، فَأكثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلاة فيه، فَإنَّ صَلاَتَكُم مَعرُوضَةٌ عَلَيَّ). رواه ابوداود باسناد صحيح

ترجمه:- يقيناً د ورځو غوره ورځ جمعه ده ، په دغه ورځ پر ما باندې زيات درد ووائې ، ځکه ستاسې دردود ما ته وړاندې کيږي .

امام شافعي رحمه الله وايې : ( وأحب كثرة الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم في كل حال ، وأما في يوم الجمعة وليلتها أشد استحبابا). معرفة السنن والآثار للبيهقي (٥/ ٢٠٧)

**٩- امام لره ښايي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د فعل د اتباع په نيت د جمعې د لمانځه په اول رکعت کې سوره (الجمعة) او دوهم رکعت کې (الکافرون ) ووايي يا (سبح اسم ربك الأعلى)، او (هل أتاك حديث الغاشية ). ووايې.**